# اجـــــرونه

## کوچنې عملونه او ستر ثوابونه

راټولونه: د محمد رسول الله ویب سایټ علمی ډله

ژباړن:  اندیال ساپی

کال ۲۰۱۷م

بسم الله الرحمن الرحیم

**د کـــــتاب ځانـــــــــګړنې**

---

د کتاب نوم:   اجـــــرونه

راټولونه   : د محمد رسول الله ویب سایټ علمی ډله

ژباړن   :   انـدیال ساپی

کمپوز   :   ژباړن

چاپ کال  : ناچاپه

چاپ شمیر:   ۱۰۰۰

خپرندوی: ریـان ټولګټې اسـلامې کتابتـون

---

**(۱) مؤذن ته د ځواب ورکولو او اذان څخه وروسته ددعا ویلو څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: "مَن قالَ حينَ يَسمعُ النداءَ: اللهمَّ رَبَّ هذه الدعوةِ التامَّةِ، والصلاةِ القائمةِ، آتِ محمَّداً الوسيلةَ والفضيلةَ، وابعثْه مقاماً محموداً الذي وعدتَه؛ حَلَّت له شفاعتي يومَ القيامة".

ژباړه: چا چې د اذان اوریدولو په وخت کې وویل: (اللهمَّ رَبَّ هذه الدعوةِ التامَّةِ، والصلاةِ القائمةِ، آتِ محمَّداً الوسيلةَ والفضيلةَ، وابعثْه مقاماً محموداً الذي وعدتَه)، ای الله ددی بشپړی بلنی او کیدونکی لمونځ څښتنه، محمد صلی الله علیه وسلم ته په جنت کې ځانګړی مرتبه او فضیلت ورکړی، او هغه ځانګړی ځای ته یې ورسوئ چې تا یې ژمنه کړی ده، د هغه لپاره د قیامت په ورځ زما شفاعت ثابت شو.

**(۲) اودس نه وروسته ددعا ویلو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ، فَيُسْبِغُ الْوُضُوءَ، ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ ».

ژباړه: له تاسی څخه داسی څوک نشته چې پوره او سم اودس وکړی او بیا دا دعا ووایې: ( أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ)، زه گواهی کووم چې الله جل جلاله پرته بل څوک د عبادت لایق نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او استازی دی، مگر دا چې ده ته به د جنت اته واړه دروازی پرانستل شی، چې کومه یې خوښه وی له هغی به داخل شی.

## (٣) د بشپړ او سم اودس کولو څه اجر دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ».

ژباړه: څوک چې سم اودس وکړی، له بدن څخه به یې ټول گناهونه واوځی تردی چې د نوکانو له لاندی نه به هم گناهونه واوځی.

**(۴) جومات ته د ډيرو قدمونو اخستلو ثه اجر دی؟**

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي:«مَنْ رَاحَ إِلَى مَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ فَخَطْوَةٌ تَمْحُو سَيِّئَةً، وَخَطْوَةٌ تُكْتَبُ لَهُ حَسَنَةٌ، ذَاهِبًا وَرَاجِعًا».

ژباړه: څوک چې د جمع لمونځ کولو لپاره جومات ته لاړ شی، په تلو راتلو کې په يو قدم اخستلو گناه رژيږی او په بل قدم ورته نيکی ليکل کيږی.

**(۵) جمعی ورځی د غسل کولو او لمانځه لپاره دتياری نيولو ثه اجر دی؟**

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي:«مَن غَسَلَ يومَ الجُمُعةِ واغتَسَلَ، ثمَّ بكَّرَ وابتكرَ، ومشى ولم يَركَب، ودنا مِن الإمامِ فاستَمعَ ولم يَلْغُ، كانَ له بكُل خُطوةٍ عَمَلُ سنةٍ أجرُ صِيامِها وقِيامِها».

ژباړه:«څوک چې د جمعی په ورځ غسل وکړی او بيا وختی جومات ته پياده لاړ شی، او امام ته نږدی د خطبی اوريدلو لپاره کيښنی، او عبث کارونه ونه کړی، نو د ده لپاره به په هر قدم باندی يو کال د تهجدو او روژی ثواب وليکل شی».

**(٦) څاښت د لمونځ کولو**

**څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ، فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَكْبِيرَةٌ صَدَقَةٌ، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيٌ عَنْ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، وَيجْزِي مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ تَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى».

ژباړه: د سبا په راتلو سره له تاسی څخه د هرکس د بدن په هر غړی صدقه کول لازمی دی، هر ځل تسبیح(سبحان الله)ویل صدقه ده، او هر ځل د الله حمد(لاإله إلا الله) ویل صدقه ده، او هر ځل الله اکبر صدقه ده، هم دا راز په نیکیو امرکول او له بدیو منع کول صدقه ده، خو له دی ټولو څخه د څاښت دوه رکعته لمونځ کول کافی(پوره) کیږی.

**(٧) د هغه چا لپاره چې الله جل جلاله د یادولو په خاطر د خپل لمانځه په ځای کې ناست وی**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي:« «الْمَلائِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مُصَلاَّهُ الَّذِي صَلَّى فِيهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ، أَوْ يَقُمْ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ،

اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ،لا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلاةٍ مَا كَانَتِ الصَّلاةُ تَحْبِسُهُ، لا يَمْنَعُهُ أَنْ يَنْقَلِبَ إِلَى أَهْلِهِ، إِلا الصَّلاةَ».

ژباړه: له تاسی څخه د یو چا لپاره ملائکې تر هغه وخت پوری د رحمت سوال کوی چې تر څو پوری د خپل لمانځه په ځای کې ناست وی تر دی چې بی اودسه شوی نوی او له خپل ځای پاڅیدلی نوی، او هغوی وایې: ای الله ښنه ورته وکړی او رحم پری وکړی، تر هغه وخت پوری له تاسی څخه یو کس په لمانځه کې دی چې لمونځ یې ایساروی، کورته له ستنیدو یې له مانځه پرته بل څه نه منع کوی.

**(۸) د ماخوستن او سحر لمونځ په جمع سره د کولو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ».

ژباړه:«څوک چې د ماخوستن لمونځ په جمع سره وکړی گویا کې دغه انسان نیمه شپه عبادت کړی، او څوک چې د سحر لمونځ په جمع سره وکړی گویا کې دغه انسان ټوله شپه عبادت کړی دی».

**(٩) د هغه چا لپاره چې د موکدو سنتو ساتنه کوی**
**څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:«مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ: أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاةِ الْفَجْرِ».

ژباړه:«څوک چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته سنت لمونځ وکړی، نو الله تعالی به ورله په جنت کې کور جوړ کړی»څلور رکعته د ماسپښین نه مخکی او دوه تر وروسته، دوه رکعته د ماښام نه وروسته، دوه رکعته د ماخوستن نه وروسته او دوه رکعته د سحر لمانځه نه مخکی.

**(١٠) د هغه چا لپاره چې جنجال او په ټوکو کې دروغ پریږدی او خپل اخلاق ښه کړی**
**څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا، وَبِبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا، وَبِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسُنَ خُلُقُهُ».

ژباړه:« زه د جنت په غاړه کې د هغه چا لپاره د کور زموار يم چې جنجال پريږدی که په حقه هم وی، او د جنت په مينځ کې هغه چا لپاره د کور زموار يم چې دروغ پريږدی کې په ټوکو کې هم وی، او همدا رنګه د جنت په لوړه برخه کې د هغه چا لپاره د کور زموار يم چې خپل اخلاق ښه کړی».

**(۱۱) د هغه چا لپاره چې څلويښت ورځې لمونځ وکړی او تکبير تحريمه(اولنی تکبير) رانيسی**

**څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی:«مَنْ صَلَّى لِلَّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الأُولَى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ».

ژباړه:«څوک چې الله جل جلاله د رضايت لپاره څلويښت ورځی د جمع لمونځ وکړی، حال دا چې تکبير تحريمه رانيسی، د ده لپاره به دوه قسمه نجات وليکل شی:جهنم د اور نه نجات او بل د منافقت نه خلاصی».

**(۱۲) په جمع باندی د فرضی لمونځ کولو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي: «صَلاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً».

ژباړه: د جمع لمونځ په ځانله لمونځ باندی یو په اوه ویشتو درجو غوره دی.

**(۱۳) جنازی د لمونځ کولو او بیا مړی د خښولو څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «مَنْ شَهِدَ الجَنَازَةَ حَتَّى يُصَلِّيَ، فَلَهُ قِيرَاطٌ، وَمَنْ شَهِدَ حَتَّى تُدْفَنَ كَانَ لَهُ قِيرَاطَانِ»، قِيلَ: وَمَا القِيرَاطَانِ؟ قَالَ: «مِثْلُ الجَبَلَيْنِ العَظِيمَيْنِ».

ژباړه:«څوک چې د جنازی لمانځه ته حاضر شو نو د هغه لپاره د یو قیراط په اندازه ثواب دی، او څوک چې جنازی ته حاضر شو تر دی چې مړی دفن شی نو د هغه لپاره دوه قیراطه اجر دی، چا وپوښتل چې قیراط څه شی دی؟ هغه وویل: د دو لویو غرونو په څیر».

**(۱۴) د "رَضِيتُ بِاللَّهِ رَباً، وَبالإِسْلَام دِيناً، وَبمُحَمدٍ نَبياً" د ويلو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: « مَنْ قَالَ: رَضِيتُ بِاللَّهِ رَباً، وَبالإِسْلاَم دِيناً، وَبمُحَمدٍ -صلى الله عليه وسلم- نَبياً، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ».

ژباړه: چا چې وویل: راضی یم چې الله جل جلاله می رب دی، اسلام می دین دی او محمد صلی الله علیه وسلم می نبی دی، د هغه لپاره جنت واجب شو.

**(۱۵) د هغه چا لپاره چې د الله جل جلاله نه ريښتنی شهادت غواړی څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ، بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ».

ژباړه:«څوک چې الله تعالی نه په په ريښتنی د شهادت سوال وکړی الله جل جلاله به يې د شهيدانو مقام ته ورسوی اگر که پخپله بستره کې هم مړ شی».

**(۱٦) د خپلوی پاللو**

**څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:«مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَأَنْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ».

ژباړه:« که څوک خوښه ګنی چې رزق يې پراخه شی او عمر يې زيات شی نو خپلوی دی وپالی».

**(۱۷) د هر فرضی لمانځه نه وروسته د ایت الکرسی ویلو**

**څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ، إِلَّا الْمَوْتُ».

ژباړه:«څوک چې د هر فرضی لمانځه څخه وروسته ایت الکرسی ووايې پرته له مرګ څخه به يې بل څه جنت له ننوتلو منع نه کړي».

**(١٨) د:«سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم وَبِحَمْدِهِ» ويلو ثه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي:«مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَه نَخْلَة فِي الْجَنّة».

ژباړه:«چا چې دا کلمات وويل: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم وَبِحَمْدِهِ ،پاکی ده الله تعالی لره چې لوی ذات دی ، حمد او ثنا ده هغه لره، په جنت کې به د هغه لپاره د خرما نيالگی کيښودل شی».

**(١٩) سله ځله د«سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ» ويلو ثه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: « مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، مِائَةَ مَرَّةٍ، غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبُهُ وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ».

ژباړه:«څوک چې سل ځله: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ووايي، ټول گناهونه به يې وبښل شی اگر که سمندر د زگ هومره ولې نوی».

**(۲۰) الله جل جلاله د رضا لپاره یوه ورځ د روژی نیولو څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:« مَن صامَ یوماً في سبیلِ الله؛ بَعدَ اللهُ وجْهَهُ عنِ النارِسبعینَ خریفاً».

ژباړه:«څوک چې د الله تعالی په لار کې یوه ورځ روژه شو نو الله جل جلاله به یې جهنم د اور نه د اویاکلنو په اندازه لیرې کړی».

**(۲۱) په هره میاشت کې دری ورځې د روژی نیولو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې:« وَإِنَّ بِحَسْبِكَ أَنْ تَصُومَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنَّ لَكَ بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرَ أَمْثَالِهَا فَإِنَّ ذَلِكَ صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ ».

ژباړه: یقینا ستا لپاره پوره ده چې له هری میاشتی دری ورځې روژه ونیسئ، یقینا ستا لپاره هره نیکی لس چنده ده، یقینا دغه داسی شوه لکه د ټول عمر روژې .

**(٢٢) عاشوراء ورځې د روژې نیولو**

**څه اجر دی؟**

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی:« صِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ».

ژباړه: عاشوراء د ورځې روژه نیول، یقینا زه په الله جل جلاله باندی یقین لرم چې د تیر شوی کال گناهونه ښښی.

**(٢٣) عرفی ورځې د روژې نیولو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلى الله عليه وسلم فرمايې:« صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ، إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالَّتِي بَعْدَهُ».

ژباړه: عرفی د ورځې روژه نیول، یقینا زه په الله جل جلاله باندی یقین لرم چې د تیر شوی او راتلونکی کال گناهونه رژوی.

**(٢۴) د ښو اخلاقو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلى الله عليه وسلم فرمايې: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ».

ژباړه:«یقینا مؤمن په ښو اخلاقو باندی د رژوه دار او تهجد کونکی مرتبی ته رسی».

**(۲۵) د خوب ځخه مخکی د ذکر ځه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی::« إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا فَسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَاحْمَدَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ، فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ».

ژباړه:« کله چې د خپل خوب ځای کې اړخونه ولگوی نو (۳۳) ځله سبحان الله ووایئ،او(۳۳)ځله الحمد الله ووایئ، او (۳۴)ځله الله اکبر ووایې، دا ستاسی لپاره د خادم نه غوره دی».

**(۲۶) سحر او ماښام د (سید الإستغفار) ویلو ځه اجردی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ: ( اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ )،

قَالَ: مَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ»

ژباړه: غوره استغفار دا دی چې ته ووایې:( ای الله ته زما پالونکی یې، بی له تا بل څوک د عبادت وړ نشته، زه تا پیدا کړی یم او ستا بنده یم، زه د خپل توان په اندازه ستا په عهد او وعده ولاړیم، پناه غواړم په تا پوری د شر له هغه څه نه چې ما کړی دی، ستا په هغه نعمتونه اقرار کوم چې په ما دی کړی او په خپله گناه هم اقرار کوم، نو ماته ښښنه وکړه، بغیر له تا بل څوک گناهونه نشی ښښلی)،

بیا وایې: چا چې دا دعا د سحر له خوا وویله پداسی حال کې چې یقینورباندی کوی او بیا په دغه ورخ مړ شی، او یا یې د شپی له خوا وویله پداسی حال کې چې یقین ورباندی کوی او بیا د شپی مړ شی نو دغه انسان جنتی دی.

**(۲۷) کور ته د ننوتلو او ډوډی د خوړلو په وخت الله جل جلاله د یادونی**

**څه اجر دی؟**

رسول صلي الله علیه وسلم فرمایلي دی:«إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَذَكَرَ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: لَا مَبِيتَ لَكُمْ، وَلَا

عَشَاءَ، وَإِذَا دَخَلَ وَلَمْ يَذْكُرْ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: أَدْرَكْتُمْ الْمَبِيتَ، فَإِذَا لَمْ يَذْكُرْ اللَّهَ عِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ: أَدْرَكْتُمْ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ».

ژباړه: کله چې يو کس په تاسو کې خپل کور ته ننوځی، د ننوتلو او خوراک پر وخت دالله جل جلاله يادونه وکړي نو شيطان وواېي: ستاسی لپاره نه د شپې تيرول شته او نه د ماښام خواړه، او کله چې يو کس داخل شی او دننوتلو پر مهال دالله يادونه ونه کړی نو شيطان وواېي شپه مو تر لاسه کړه، او کله چې ماښام د ډوډی پر وخت بسم الله ونه وايې نو شيطان وواېي: د ماښام خوراک او شپه تيرول دواړه مو ترلاسه کړل.

**(٢٨) د «لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ» د ويلو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايې : «أَكْثِرْ مِنْ قَوْلِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، فَإِنَّهَا مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ».

ژباړه: د «لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ» نشته له بديو اړونکی او په نکيو مرسته کونکی مگر يواځی يو الله جل جلاله دی، ويل زيات کړئ، يقينا دا د جنت له خزانو څخه خزانه ده.

**(۲۹) سورت کهف اولنی لسو ایتونو د یادولو ثه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ، عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ».

ژباړه:«چا چې د سورت کهف لومړنی لس ایتونه حفظ کړل، نو دجال له فتنی څخه به وساتل شی».

**(۳۰) چا چې سل ځله سبحان الله وویل دهغه لپاره ثه اجر دی؟**

رسول صلي الله علیه وسلم فرمایلي دی:«أَيَعْجَزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ؟ يُسَبِّحُ اللَّهَ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ، فَيَكْتُبُ اللَّهُ لَهُ بِهَا أَلْفَ حَسَنَةٍ، وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا أَلْفَ خَطِيئَةٍ».

ژباړه: ایا یو شخص له تاسی څخه ناتوانه دی چې هره ورځ زر نیکي ترلاسه کړی؟ سله ځله دی د الله تسبیح (سبحان الله) ووایي، الله جل جلاله به ورته د دی په ثواب کې زر نیکې ولیکی او زر گناهو به تری ورژوی.

**(٣١) د جماع (كوروالى) څخه مخکی د دعا ویلو څه اجر دي؟**

نبی صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لَو أَن أحدكُم إِذا أَرَادَ أَن يَأْتِي أَهله قَالَ: بِسم الله اللَّهُمَّ جنبنا الشَّيْطَان وجنب الشَّيْطَان مَا رزقتنا، ثم قُدِّرَ أَنْ يَكُونَ بَيْنَهُمَا ولد فِي ذَلِك لم يضرهُ الشَّيْطَان أبداً».

ژباړه: كه چیرې یو كس له تاسی نه په هغه وخت كې چې خپل اهل ته دنږدی کیدو(کوروالی) اراده وکړي او دا دعا ووايې:(بِسم الله اللَّهُمَّ جنبنا الشَّيْطَان وجنب الشَّيْطَان مَا رزقتنا)، پيل كوم په نوم د الله تعالی، ای الله مونږ له شیطان نه لری کړي او شیطان له هغه څه نه لری کړی چې مونږ ته يې راكوئ، بيا كه دواړو ته په دغه وخت كې بچی مقرر شوي وي نو شيطان به ورته هيڅكله زيان ونه رسوي.

**(٣٢) څوک چې خپله غوسه کابو کړي د هغه لپاره څه اجر دي؟**

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دى: «مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الحُورِ شَاءَ».

ژباړه:« څوک چې خپل قهر او غوسه کنټرول کړي پداسي حال کې چې هغه د پلي کولو توان لري، نو الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په مخکې راوبلي تردې چې د حورو په خوښولو کې به اختیار ورکړي».

**(۳۳) ژبې او شرمگاه د ساتنې**

**څه اجر دي؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ».

ژباړه:« څوک چې د هغه څه ضمانت راکړي چې د دو ژامو او خپو ترمنځ دي(ژبه او شرمگاه) نو زه به ورله جنت ته د ننوتللو ضمانت وکړم».

**(۳۴) د ملاقات او لیدلو په وخت یو بل ته د لاس ورکولو(مصافحې کولو)**

**څه اجر دي؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ، إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَتَفَرَّقَا».

ژباړه:«نشته دوه مسلمانان چې د ليدنی په وخت يو بل ته لاسونه ورکړی، مگر دا چې الله جل جلاله به دوي ته له جدا کيدو مخکی ببښنه وکړی».

**(٣٥) شوال د مياشتی د شپږو رژو نيولو**

**څه اجر دي؟**

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلې دي: «مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ».

ژباړه: څوک چې رمضان د مياشت روژې ونيسی او بيا ورپسی د شوال دمياشتی شپږ روژې ونيسی دا داسی ده لکه ټول عمر روژه نيول.

**(٣٦) د هغه چا لپاره چې په مسلمان پرده واچوی، له هغه سره اسانتيا وکړي، تکليف او مصيبت تری لري کړي**

**څه اجر دي؟**

رسول صلی الله عليه وسلم فرمايې: «مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، ».

ژباړه: څوک چې د مومن نه  د دنیا یو مصیبت او تکلیف لرې کړي نو الله تعالی به ترې د اخرت یو مصیبت او تکلیف لرې کړي، څوک چې له ناچاره (تنګ لاسی) سره اسانتیا وکړي الله تعالی به ورسره په دنیا او اخرت دواړو کې اسانتیا وکړي، او څوک چې په یو مسلمان باندې پرده واچوي الله تعالی به په ده باندې په دنیا او اخرت دواړو کې پرده واچوي.

**(۳۷) په جومات کې قران کریم د تلاوت او زدکړې لپاره د راټولیدلو**
**څه اجر دي؟**

رسول صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: « مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ تَعَالَى، يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ».

ژباړه:نه راټولیږی یو قوم د الله تعالی له کورونو څخه په یو کور کې، چې دالله جل جلاله کتاب لولي او په خپل مینځ کې یې په زده کړه بوخت وي، مګر په هغوي  به دالله جل جلاله له لوري ارام او ډاډ نازل شي، د الله جل جلاله په رحمت کې به پټ شي،

ملائکې به تري چاپیره شي، او الله جل جلاله به يې د هغه چا په وړاندی یادونه وکړي چې له هغه سره دي(ملائکې).

## (۳۸) هغه چا لپاره چې علم د زده کړي لار ونیسی څه اجر دي؟

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَبْتَغِي فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّة».

ژباړه:«څوک چې علم د زدکړی لار ونیسی، نو الله تعالی به ده جنت لار ورته اسانه کړي».

## (۳۹) مجلس د کفاری د دعا ویلو څه اجر دي؟

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:« مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ، فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ ».

ژباړه: څوک چې په یو مجلس کې کيني او خبرې په کې ډيرې شي، او د پاڅيدو نه مخکی دا دعا ووايې:( سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ)، پاکی ده

ای الله تا لره، حمد او ثنا ده ای الله تا لره، زه گواهی کووم چې نشته مستحق د عبادت مگر ته یې، له تا نه ښښنه غواړم او تا ته توبه وباسم، ده ته به هغه گناهونه وبښل شي چې پدغه مجلس کې ترى شوي وي.

**(۴۰) د سلام په پيلولو(اچولو) په مخکی والی کې ثه اجر دي؟**

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايې: «مَنْ قَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ كُتِبَتْ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ ، وَمَنْ قَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ كُتِبَتْ لَهُ عِشْرُونَ حَسَنَةً، وَمَنْ قَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، كُتِبَتْ لَهُ ثَلَاثُونَ حَسَنَةً».

ژباړه: څوک چې( السَّلَامُ عَلَيْكُمْ)ووايې: د ده لپاره به لس نيکې وليکل شي، او څوک چې (السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ) ووايې: د ده لپاره به شل نيکې وليکل شي، او څوک چې (السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ) ووايې:
د ده لپاره به ديرش نيکې وليکل شي.

**(۴۱) ناروغ د پوښتنی**
**څه اجر دي؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، وإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه:«نشته هيڅ مسلمان چې د سحر په وخت د بل ناروغ مسلمان تپوس وکړی مگر دا چې تر بيگاه پوری به ورله (۷۰۰۰۰) ملايکې د رحمت سوال کوی، او که چيرته د شپی لخوا يې پوښتنه وکړه نو تر سحره پوری به ورله (۷۰۰۰۰) ملائکې د رحمت سوال کوی، او د ده لپاره به په جنت کې د خرماو باغ وی».

**(۴۲) د«سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ،سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ»ويلو**
**څه اجر دي؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ».

ژباړه:«دوه کلمی او جملی دی، په ژبه يې ويل اسانه دی، په تللو کې درنی دی، او الله جل جلاله ته ډيری محبوبی دی(سُبْحَانَ اللَّهِ

وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ)، پاکی ده الله تعالی لره سره د ثنا او ستاينی د هغه، پاک دی الله تعالی چې لوی ذات دی».

**(۴۳) په مخلوق باندې د رحم او شفقت کولو ثه اجر دي؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلې دي: «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا مَنْ فِي الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ».

ژباړه: په(مخلوق) رحم کوونکو باندې الله تعالی رحم کوي، تاسی په هغه چا رحم او مهربانی وکړئ چې په زمکه کې دي، هغه ذات به په تاسی رحم او مهربانی وکړي چې په اسمان کې دي.

**(۴۴) د مؤذن لپاره د اذان کولو ثه اجر دي؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايې:« فَإِنَّهُ لَا يَسْمَعُ مَدَى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ جِنٌّ وَلَا إِنْسٌ وَلَا حَجَرٌ وَلَا شَيْءٌ إِلَّا شَهِدَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

ژباړه: يقينا پيريان، انسانان کاڼي، او او هر شی د مؤذن د اذان غږ نه اوري مگر دا چې د قيامت په ورځ به د ده لپاره گواهی ورکوي.

**(۴۵) د هغه چا لپاره چې دشپې د خوب نه د راپاڅیدو پر وخت دعا وکړی**

**څه اجر دي؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ حِينَ يَسْتَيْقِظُ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ للَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِي وَدَعَا اسْتُجِيبَ لَهُ، فَإِنْ قَامَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلَّى قُبِلَتْ صَلَاتُهُ».

ژباړه: څوک چې د شپی راویښ شو او د پاڅیدو پر وخت یې وویل: چې نشته دی مستحق دبندگی (معبود په حقه سره) مگر یوائې یو الله جل جلاله دی، هیڅ شریک نه لری، هغه لره پاچاهی ده، او هغه لره حمد اوثنا ده، هغه ژوندی کول او مړه کول کوی، دهغه په لاس کې ټول خیر دی او هغه په هر څه برلاسه دی، پاکی ده الله تعالی لره، او ثنا ده الله تعالی لره، او نشته دی مستحق دبندگی مگر یوائې یو الله جل جلاله دی، الله لوی ذات دی، نشته دی اړونکی د بدی او مرسته کونکی په نیکی باندې مگر یوائې الله جل جلاله دي، او بیا ووایې: ای پروردگاره: ماته ښښنه وکړی

او دعا وغواړي نو دعا به يې قبوله شي، که چيرته پاڅيږي اودس وکړي او بيا لمونځ وکړي نو لمونځ به يې قبول شي.

**(۴۶) په الله تعالی باندې د بشپړ توکل کولو څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي:« سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ، هُمُ الَّذِينَ لَا يَكْتَوُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ».

ژباړه: اويا زره کسان به زما له امت څخه بی له حسابه او عذابه جنت ته ننوځي، دوی هغه کسان دي چې ښکر نه لګوي، د دم غوښتنه نکوي، او بد پالی نه نيسي او يواځې په خپل رب توکل کوي.

**(۴۷) په رسول صلی الله علیه وسلم باندې د درودو ويلو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:« مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى الله عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، وَحَطَّ عَنْهُ عَشْرَ خَطِيئَاتٍ، وَرُفِعَ عَنْهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ».

ژباړه: څوک چې په ما باندې یو ځل درود ووايي الله جل جلاله به پرې لس ځله درود ووايي، لس گناهونه به يې ورژيږي او لس درجې به يې لوړی شي.

**(۴۸) د اودس څخه وروسته د دوه ركعته لمونځ كولو څه اجر دی؟**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « مَا مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ، وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، يُقْبِلُ بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ عَلَيْهِمَا، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ».

ژباړه: نشته داسې یو څوک چې اودس وکړی او اودس ښائسته کړی، بیا دوه رکعته لمونځ وکړی، د خپل زړه او اندامونو توجو لمونځ ته راوگرځوی، مگر دا چې د ده لپاره جنت فرض شو.

**(۴۹) د نظر په ختمیدلو باندې د صبر کولو څه اجر دی؟**

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايي:« إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ، فَصَبَرَ؛ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ».

ژباړه: الله تعالی فرمايي: کله چې زه خپل بنده هغه نه د سترګو په اخستلو امتحان کړم، او هغه وکړی، نو د هغی په بدله کې ورته جنت ورکړم.

**(۵۰) د زياتو سجدو کولو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي: «عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ؛ فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللَّهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً».

ژباړه:بائد سجدې ډيرې کړئ، يقينا ته الله جل جلاله ته يوه سجده نږدی مګر دا چې الله تعالی درته په هغی يوه درجه لوړوی، او يوه ګناه در څخه رژوئ.

**(۵۱) الله جل جلاله يووالی د شاهدی(شهادت د کلمی) ويلو**

**څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: « مَنْ قَالَ:لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ، كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ

ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ، وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ، إِلَّا أَحَدٌ عَمِلَ عَمَلاً أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ».

ژباړه: چاچې دا کلمات په ورځ کې سل ځله وويل:( لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) نشته دی مستحق(معبود) د بندگی مگر يواځی يو الله جل جلاله دی، هيڅ شريک نه لری، هغه لره پاچاهی ثنا او ستاينه ده، او هغه په هر څه بر لاسی دی.

دهغه لپاره به په ثواب کې د لسو غلامونو د ازادولو برابر وی، سل نيکې به يې وليکل شی، سل گناهونه به ورته وبښل شی، او دابه ورته ټوله ورځ تر ماښامه د شيطان نه ژغورنه وی، او هيڅوک به د ده په څير په غوره عمل راتگ ونکړی مگر هغه څوک چې له دی زيات عمل يې کړی وی.

**(٥٢) پدې صيغه د تسبيح ويلو**

**څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلې دی: «لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ؛ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».

ژباړه:«یقینا ما له تا وروسته څلور کلمات درې ځل وویل، کچیرې ستا د ټولې ورځې له ذکر سره وتلل شي نو له هغې به درانده وې: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، وَرِضَى نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ، پاکي د الله جلا جلاله لره اوغوره ستاینه ده هغه لره په اندازه د مخلوقاتو د هغه، د نفس د رضا د هغه، په وزن د عرش د هغه، او په رنګ د کلماتو د هغه ».

**(۵۳) د عادل امام (پاچا) لپاره**

**څه اجر دی؟**

نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ» وَذَكَرَ مِنْهُمْ: « الْإِمَامُ الْعَادِلُ ».

ژباړه: اووه کسان دي چې الله تعالی به پرې هغه ورځ خپل سیوری(د عرش سیوری)[1] وکړي چې هغه د سیوری نه غیر به بل هیڅ سیوری نوي، دهغوی د ډلې نه یې د«عادل پاچا» یادونه وکړه.

[1] لومړی: دلته مراد د عرش سیوري دي او د عرش اضافت الله جل جلاله ته اضافت د تشریف دی، دا دجمهور محدثینو او علماوو قول دی.

دویم: دلته مراد هغه سیوری دی چې الله تعالی به یې په ورځ د قیامت پیدا کړي، الشرح الوسطية لابن عثمين - رحمه الله-(۱۳۶/۲).

**(۵۴) په عبادت کې د لوی شوي ځوان لپاره**
**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ» وَذَكَرَ مِنْهُمْ:«شَابٌّ نَشَأَ بِعِبَادَةِ اللَّهِ ».

ژباړه: اووه کسان دي چې الله تعالی به پرې هغه ورځ خپل سيوری وکړی چې هغه د سيوری نه به غير بل هيڅ سيوری نوې، دهغوی د جملی نه يې د«هغه ځوان چې د الله تعالی په عبادت کې لوی شوي وی» ذکر وکړ.

**(۵۵) جومات پورې د زړه تړلو**
**څه اجر دی**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ» وَذَكَرَ مِنْهُمْ:« وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُتَعَلِّقٌ بِالْمَسْجِدِ، إِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتَّى يَعُودَ إِلَيْهِ ».

ژباړه: اووه کسان دي چې الله تعالی به پرې هغه ورځ خپل سيوری وکړی چې هغه د سيوری نه به غير بل هيڅ سيوری نوې، دهغوی د ډلی نه يې د هغه يادونه وکړه«چې زړه يې د جومات پورې تړلی وی، چې کله ترې ووځې نو بيرته ورته راستون شي ».

**(۵٦) الله تعالی د رضا لپاره د مینی او محبت کولو**

**څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلې دی: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ» وَذَكَرَ مِنْهُمْ: «رَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ، فَاجْتَمَعَا عَلَى ذَلِكَ وَافْتَرَقَا عَلَيْهِ » .

ژباړه: اووه کسان دي چې الله تعالی به پرې هغه ورځ خپل سیوری وکړی چې هغه د سیوری نه به غیر بل هیڅ سیوری نوې، دهغوی د جملی نه یې هغه«دوه کسان چې د الله تعالی د رضا لپاره په خپل منځ کې محبت کوي، په هم دغی هغوی یوځای شوي وي او په هم دغی جدا شوي وي »یادونه وکړه.

**(۵۷) الله تعالی  د ویری نه د ژړلو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلې دي: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ» وَذَكَرَ مِنْهُمْ: « رَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ،»

ژباړه: اووه کسان دي چې الله تعالی به پرې هغه ورځ خپل سیوری وکړی چې هغه د سیوری نه به غیر بل هیڅ سیوری نوې، دهغوی د

جملی نه يې د هغه«کس چې په تنهايي کې الله تعالی ياد کړی او اوښکې يې وبهيږي »يادونه وکړه.

**(٥٨) سره د قدرت او توانه د زنا پرېښودلو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ» وَذَكَرَ مِنْهُمْ: « رَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ».

ژباړه: اووه کسان دي چې الله تعالی به پرې هغه ورځ خپل سيوری وکړی چې هغه د سيوری نه به غير بل هيڅ سيوری نوې، دهغوی د جملی نه يې د هغه«کس چې يوه شريفه او شتمنه ښځه يې خپل طرف ته زنا ته راوبلی او هغه ووايې: چې زه د الله تعالی نه ويريږم چې پالونکی د ټولو مخلوقاتو دی »يادونه وکړه.

**(٥٩) په پټه د صدقې کولو**

**څه اجر دی؟**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ» وَذَكَرَ مِنْهُمْ: « وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ » .

ژباړه: اووه کسان دي چې الله تعالی به پرې هغه ورځ خپل سيوری وکړی چې هغه د سيوری نه به غير بل هيڅ سيوری نوې، دهغوی د ډلی نه يې د هغه «کس چې داسې په پټه صدقه ورکړی چې چپ لاس يې خبر نشي چې ښې لاس يې څه صدقه کړی دی » يادونه وکړه.

**(٦٠) د هغه چا لپاره چې امين ويل يې ملائکو د امين ويلو سره موافق شي**

**څه اجر دی؟**

نبی صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« إِذَا أَمَّنَ الإِمَامُ فَأَمِّنُوا، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ».

ژباړه: کله چې امام امین ووایې نو تاسی هم امین ووایې، یقنیا د چا امین ویل چې ملائکو د امین ویلو سره موافق شول نو ټول مخکنی گناهونو به ورته وبښل شي.

**(٦١) په نیکیو د همیشوالی**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ».

ژباړه: غوره او خوښ عمل الله تعالی هغه دی چې همیشه وی که څه هم لږ وی.

**(٦٢)الله جل جلاله د رضا په خاطر د جومات جوړولو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «مَنْ بَنَى لله مَسْجِداً ، بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه:« څوک چې د الله جل جلاله د رضا لپاره جومات جوړ کړي، الله تعالى به ورله په جنت کې کور جوړ کړي».

**(٦٣) سحر د دو رکعتو سنتو کولو**
**څه اجر دی؟**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی:«رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا».

ژباړه:«د سحر دوه رکعته سنت د دنيا او هغه څه نه غوره دی چې په دنيا کې دی».

**(٦٤) بي له ګټې د قرض ورکولو**
**څه اجر دی؟**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُقْرِضُ مُسْلِمًا قَرْضًا مَرَّتَيْنِ إِلَّا كَانَ كَصَدَقَتِهَا مَرَّةً».

ژباړه:« څوک چې يو مسلمان ته دوه ځلی قرض ورکړي، دا داسی ده لکه يو ځل چې يې صدقه کړې وي».

**(٦٥) د فرضی لمونځ وروسته د اذکارو ویلو څه اجر دی؟**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:«مَنْ سَبَّحَ اللَّهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَحَمِدَ اللَّهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَكَبَّرَ اللَّهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، فَتِلْكَ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ» ، وَقَالَ: " تَمَامُ الْمِائَةِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ».

ژباړه: څوک چې د هر فرضی لمانځه څخه وروسته (۳۳) ځله سبحان الله (پاکی ده الله تعالی لره) ووایې،(۳۳)ځله الحمد الله(حمد او ثنا ده الله تعالی لره) ووایې،او (۳۳)ځله الله اکبر(لوي د الله جل جلاله ) ووایې، نو دغه (۹۹) ځل شو، بیا سل د پوره کیدو لپاره دا کلمات ووایې:( لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) نشته دی مستحق دبندګی (معبود په حقه سره) مګر یواځی یو الله جل جلاله دی، هیڅ شریک نه لری، هغه لره پاچاهی ده، او هغه لره حمد اوثنا ده، هغه په هر څه برلاسه دی، ټول ګناهونه به یې وبښل شي اګر که سمندر د زګ په څیر ولی نوې.

**(٦٦) د هغه چا لپاره چې واړه بچيان يې مړه شي**
**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي:«مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوتُ لَهُ ثَلَاثَةٌ مِنْ وَلَدِهِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ، إِلَّا أَدْخَلَ اللَّهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ».
ژباړه: داسې يو مسلمان سړی نشته چې درې واړه اولادونه يې مړه شي، چې بلوغ ته نوې رسيدلی مګر داچې الله تعالی به د خپلې مهربانی له مخې د هغوی لامله جنت ته داخل کړی.

(٦٧) د هغه چا لپاره چې د ډوډۍ خوړلو وروسته د الله تعالی حمد او ثنا واويې
څه اجر دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «مَنْ أَكَلَ طَعَامًا ثُم قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا الطَّعَام وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ».
ژباړه:«څوک چې ډوډۍ وخوری او بيا يې وويل: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ، پاکی ده هغه ذات لره چې ماته يې دا خواړه راکړه، او ماته رزق راکوی بغير زما د قوت او طاقت نه، نو ټول مخکنی ګناهونه به ورته وبښل شی».

**(٦٨) لوڼو سره د ښيګړې او احسان كولو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي:« لَيْسَ أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِي يَعُولُ ثَلَاثَ بَنَاتٍ أَوْ ثَلَاثَ أَخَوَاتٍ فَيُحْسِنُ إِلَيْهِنَّ إِلَّا كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ».

ژباړه: زما له امت څخه داسې يو څوک نشته چې د دريو لوڼو او يا خويندو ساتنه وکړي او له هغوی سره احسان او ښيګړه وکړي، مګر دوی به د هغه لپاره د اور څخه پرده شی.

**(٦٩) يتيم د سرپرستی او پالنی**

**څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ» وَقَرَنَ بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ الْوُسْطَى وَالَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ ».

ژباړه:« زه او د يتيم سرپرست به د قيامت په ورځ داسې يو، او بيا يې خپله منځنی او غتی پسی ګوتې يوځای کړي».

**(٧٠) خاوند د خوشحاله ساتلو**

**څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي:«أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ، وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ، دَخَلَتِ الْجَنَّةَ».

ژباړه:«هره ښځه چې مړه شي او خاوند ترې راضي وي، نو جنت به داخله شي».

**(۷۱) د عاجزۍ کولو**

**څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي:«وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ ».

ژباړه: يو چا الله جل جلاله ته تواضع او عاجزي ونده کړی مگر الله تعالی لوړ کړی دی.

**(۷۲) چا ته د نیکی او خیر ښودلو**

**څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ».

ژباړه:« چا چې نیکی او خیر ته لارښوونه وکړه د هغه لپاره د کونکی په څیر اجر وی».

## (۷۳) په کور کې ښځې د لمونځ کولو ثه اجر دی؟

: نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «وَصَلَاتُكِ فِي بَيْتِكِ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِكِ فِي حُجْرَتِكِ، وَصَلَاتُكِ فِي حُجْرَتِكِ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِكِ فِي دَارِكِ، وَصَلَاتُكِ فِي دَارِكِ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ، وَصَلَاتُكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِي».

ژباړه: ستا لپاره په خپله کوټه کې لمونځ کول د حجری نه ډیر غوره دی، او خپله حجره کې لمونځ کول درله ډیر غوره دی د کور د انګړ نه ، او په خپل کور کې درله لمونځ کول ډیر غوره دی دکلی له جومات نه، او د کلی په جومات کې درله لمونځ کول ډیره غوره دی زما د جومات نه.

## (۷٤) نیکانو خلکو سره د محبت او ناستی ثه اجر دی؟

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ ».

ژباړه:«ته به له هغه چا سره یې چې محبت ورسره لری».

**(٧٥) مسلمان ورور ته په غیاب کې د دعا کولو څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:« دَعْوَةُ  الْمُسْلِمِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ،  عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لِأَخِيهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ ».

ژباړه: د خپل مسلمان ورو لپاره په غیاب کی د یو مسلمان دعا کول مستجابه ده (قبلیږی) ده د سر په خوا کې مقرره ملائک ده کله چې د خپل ورور لپاره  د خیر دعا کوی، نو مقرره پرښته وایې: امین او ستا د پاره دی هم د هغه په څیر وی.

**(٧٦) څوک چې د نیکی اراده وکړی د هغه لپاره څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ، وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَعَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ».

ژباړه: څوک چې د نیکی اراده وکړی او هغه ترسره نکړی د هغه لپاره به یوه نیکی ولیکل شي، او څوک چې د نیکی اراده وکړی او هغه ترسره کړی د هغه لپاره به لس نیکې ولیکل شي، تر د اوه سوه چنده پورې.

**(۷۷) څوک چې د ګناه اراده وکړی او هغه ترسره نکړی د هغه لپاره څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: « إِنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا، كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِندَهُ حَسَنَةً كامِلةً».

ژباړه: او که چیرته د ګناه اراده وکړی او هغه ترسره نکړی، نو الله جل جلاله به ورته له خپل لوری پوره نیکی ولیکي.

**(۷۸) په الله جل جلاله باندې د ریښتنی توکل کولو څه اجر دی؟**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي: «لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ؛ لَرَزَقَكُمْ كَمَا تُرْزَقُ الطَّيْرُ، تَغْدُو خِمَاصًا، وَتَرُوحُ بِطَانًا».

ژباړه:«که چیرته تاسو په الله جل جلاله په ریښتنی سره توکل وکړی، نو تاسی ته د مرغانو په څیر رزق درکړی، چې سحر تشی ججوری ځی او ماښام ډکی ججوری راستنږی».

**(۷۹) لاری نه د ضرری شیانو د لیرې کولو څه اجر دی؟**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ؛ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ».

ژباړه:« ما یو سړی ولید چې په جنت کې گرځیدلو، د لاری له منځ څخه هغه ونی د پریکولو له امله چې خلکو ته یې زیان رسولو».

وصلى الله على سيدنا ونبينا محمد صلى الله عليه وسلم وعلى آله وأصحابه وسلم تسليما كثيرا

**ددې څه اجـــــــــــــر دی**

**د اسلامې کارتونو د ډیزاینولو په ویب سایټ کې مو خپل وروڼه له نیکو دعاگانو مه هیروئ**